{«DateLetterGenerated»}

{«Guardian»}
{«MailAddress»}
{«MailCity», «MailState» «MailZip»}

ګرانه {«Guardian»}:

دا لیک تاسو ته خبر درکوي چې ستاسو ماشوم، {«ChildFirst» «ChildLast»} د وینې د سرب معاینه درلوده.

| | |
|---|---|
| د معاینې نېټه | **{**«DrawDate»} |
| د وینې د سرب کچه: | µg/dL **{**«BLLResult»} |

د متحده ایالاتو د ناروغیو کنټرول او مخنیوي مرکزونو په وینا، د وینې سرب معاینې نتیجه چې µg/dL 3.5 یا لوړه وي په دې معنی ده چې ستاسو ماشوم د سرب له خطر سره مخ دی.

**مهرباني وکړئ** {**«Hdname»**} سره په {**«HDPhone»**} اړیکه ونیسئ هرڅومره ژر چې امکان ولري. موږ ځینې پوښتنې لرو چې ستاسو د ماشوم د سرب خطر سره مخ کېدلو سرچینې په پېژندلو کې به مرسته وکړي. دا پوښتنې به ما سره پدې کې هم مرسته وکړي چې تاسو ته لارښود وکړم چې څنګه ستاسو د ماشوم د وینې سرب کچه راټیټه کړو.

سرب په زاړه رنګ او کثافاتو کې موندل کېدی شي. کله چې زاړه رنګونه ټوټې او بڅري شي، نو دا د سرب دوړې رامینځته کوي. دا د سرب دوړه ممکن په هغه شیانو باندې کېني چې ستاسو ماشومان یې خوله کې اچوي، لکه د هغوی د لوبو شیان. ستاسو ماشوم ممکن دا د سرب دوړه تیره کړي یا یې تنفس کړي. ډېری ماشومان چې د سرب کچه یې لوړه وي ناروغ نه ښکاري یا د ناروغۍ عمل نه کوي.

ځینې ماشومان چې د وینې د سرب لوړه کچه لري د زده کړې، چلند، تمرکز/توجه او اورېدلو ستونزې لري. ځینې کارونه شتون لري چې تاسو یې کولای شئ ترڅو د خپل ماشوم د سرب کچه راټیټولو کې مرسته وکړئ:

- د خپل ماشوم لاسونه اکثر وخت ومینځئ، په ځانګړې توګه مخکې له دې چې دوی خوراک کوي.
- کړکۍ، ځاګانې او فرشونه ډېری وختونه مینځئ.
- له خلکو وغواړئ مخکې لدې چې ستاسو کور ته ننوځي خپل بوټان وباسي.
- خپل ماشوم ته هغه خواړه ورکړئ چې په زیاته اندازه د وینې اوسپنه (یعني آیرن) او کلسیم ولري. د ښه خواړو انتخابونو ځینې مثالونه شیدې، پنیر، پینټ بټر یا مېده شوي ممپلي، ممیز، لوبیا او ماهی دي.

د Ohio's Early Intervention (EI) پروګرام سره اړیکه ونیسئ که تاسو د خپل ماشوم د ودې په اړه اندېښنې لرئ. هغه ماشومان **چې د دریو کلونو څخه کم عمر لري** څوک چې د وینې د سرب کچه لږترلږه dL/5µg لري په اتوماتیک ډول د EI پروګرام لپاره وړ دي. EI د هغو کورنیو سره کار کوي چې د پیدایش څخه تر درې کلنۍ پورې داسې ماشومان لري څوک چې پرمختیایي ځنډ یا معلولیت لري ترڅو دوی په ژوند کې غوره ممکنه پیل ولري. د نوم لیکنې لپاره {1-800-755-4769} ته زنګ ووهئ یا { ohioearlyintervention.org ته مراجعه وکړئ.}.

حواله {«ChildIdentifier»}